## د حقونو ماجرا: اسلام او ښځه

### (یوه تنقیدي کتنه)

**لیکوال: رحمت شاه فراز**

**۱) سریزه:**

حق څه شی دی؟ د حق سرچینه څه ده؟ حق د چا لـه لـوري چاته ورکول کېږي؟ دا خبره څه معنا لري، چې دا زما یـا ستا حق دی؟ د حق سرچینه څه شی ده؟ په ټولنه کې د حق په اړه دود شوی نظر تـر کومـه بریـده سـم دی؟ آیـا دیـن د حقونـو سرچینه کېدلی شي؟ آیا د یو چا یا یو څه پـر حق بانـدې بـل څوک واک او تسلط درلودلی شي؟

په دغه لنډه لیکنه کې په همدې پورتنیو پوښتنو خبرې شـوې. د پخوا بـرخلاف، پـه یوویشـتمه پېړۍ کـې د حقونـو پـر سر شخړو او احتجاجونو ډېر زیات زور نیولی. که یوې خوا ته په لویدیځه نړۍ کـې د ښـځو لـه لـوري د کـار او مقـام مسـاوي حقونو لپاره غږ پورته کېږي، نو ورسره د همجنسبازانو او نـورو جنسونو له لوري هم وخت په وخت لاریونونه کېږي او په ډېر ټینګار سره یـې د خپلـو حقونـو د غوښـتلو نعـرې لـوړېږي. د حقونو غوښتلو ماجرا اوسمهال اسـلامي هېوادونـه هـم ښـکېل کړي او د دغو سیمو بانفوذه طبقې یې اندېښمنې کړې دي. په اسلامي هېوادونو کې د حقونو د کار مقام او ... ډېره پراخه ده او په ځان کې د زړورتیا ... حجاب پر سر نه اندري، د خپل بدن په تـړاو د تصـمیم واک او دا ډول ګڼ نور اړخونه را نغاړي.

د لویدیځو هېوادونو بالعکس، په اسـلامي هېوادونـو کـې یـوه لویه لانجه د حقونو د سرچینې په اړه ده. هغه طبقه چې ځـان مظلوم او خپل حقونه خوړل شوي ویني، د حقونو لپاره په یوه سرچینه زور ورکوي، خو په مقابل کې یـې پـه بـانفوذه طبقـې سربېره، حاکم مذهبي فکر او ملی تصور د یوې بلې سرچینې

په اړه وعظونه کوي. د سرچینې پر سر دغه بنسټیز اخـتلاف، د دې سبب شوی، چې د دواړو لوریو ترمنځ یو واحـد بسـتر تـه لاره نه هوارېږي او دغه ربړه د هوارېدو پر ځای ورځ تـر بلـې پسې زور نیسي.

په دې ټوله زمینه (context) کې ډېر د افسوس ځـای دا دی، چې په دغه برخه کې د بصیرت او قلم څښتنان پټه خوله پـاتې دي او د دې زړورتیا (او هڅه) نه کوي، چې د دغـه موضـوع تل ته ورشي او دواړه لوري د اسـتدلال او بنسـټ- سـپړنې لـه لارې ږاده کړي او خپلو تېروتنو ته یې متوجه کړي.

د دې چوپتیا یو لوی لامـل، لـه دې موضـوع سره ژور ټـولنیز حساسیت هم کېدلی شي.

**د حق مفهوم:** د حق د تعریف او پېژندنې له ګنـو لارو څخـه یوه اسانه یـې دا ده، چې وګـورو، دغـه کلمـه مـوږ پـه خپلـو ورځنیو خبرو اترو کې په کومه معنا استعمالوو. د دغو خبرو په تجزیه موږ د حق په اړه یوه واضح تصور او مفهوم ته رسېدلی شو. دا چې پر حق تیوریکي او نظري بحث موږ د حق په رڼا کې ... پرکټیکل مفهوم ... پوروړ نو ... یاد شوي پرېکټیکل میتود نه استفاده کوو.

موږ په خپلو عادي خبرو کې وایو چې، «دا زمـا حـق دی.» د ارواپوهنې له مخې، ماشوم د خپل ژوند پـه لـومړنۍ دوره کـې ځانغوښتونکی وي او «دا زمـا دی» تـرې ډېـر اورېـدل کېـږي. ماشوم په دغه دوره کې حق نه پېژني، خو آیا یـو څـه د ځـان ګڼل د خپل حق غوښتنې غږ نه دی؟ د ماشـوم خـبره لـه هغـه شي سره د عاطفي تړاو (یا ممکن د حسد) په بنیاد شـوې وي،

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو حق په عاطفه پورې تعلق نه لري، بلکې یوازې یو عاقل موجود د «حق» غوښتنه کولی شي.

موږ چې وایو، «دا زما حق دی»؛ نو د دې خبرې معنا دا ده، چې موږ د یوه کار د کولو یا له یوه شي څخه د استفادې اجازه او واک په لاس کې لرو. د دې په مقابل کې چې موږ وایو، «دا د هغه حق دی»؛ نو له دې خبرې زموږ موخه دا وي، چې زه باید هغه ته د یو څه د کولو یا له یو شي څخه د گټې اخیستنې اجازه ورکړم او د هغه واک ته غاړه کېږدم.

د حق په هکله زموږ د ورځنیو خبرو یوه بله بېلگه دا ده چې، «زموږ حقونه خوړل شوي دي.» د دې خبرې عمومي معنا دا ده، چې موږ ته اجازه نه ده راکول شوې یا زموږ واک تروړل شوی دی.

موږ په خپلو خبرو کې دا هم وایو، چې «ستا حق هېڅ څوک هم نه شي خوړلی.» په دې ځای کې موږ د حق څښتن ته یو داسې څه منسوب کوو، چې هغه «یو څه» د ده د حقونود خوړل کېدو مخه نیسي.

خو کله چې موږ په خپله ورځنۍ محاوره کې دا خبره اورو چې، «حق ورکول کېږي نه، بلکې اخیستل کېږي.» نو په دې ځای کې داسې برېښي، چې د حق د ترلاسي جگړه باید پخپله د حق څښتن (مستحق/right-holder) وکړي او هغه «یو څه» بل څه نه دي، بلکې پخپله هغه مستحق شخص (واحد/entity) ده.

له پورتني بحث او تحلیل څخه یو واقعیت پوره روښانه کېږي، چې د حق سرچینه له انسان څخه بهر ده، ځکه موږ چې اجازه غواړو، یا دا منو چې حق خوړل کېدلی هم شي او یا د حق د ترلاسي لپاره جگړې ته لاس اچولی شو، نو دا په دې معنا ده، چې د حق سرچینه «مقابل لوری» یا «بل» ده.

د حق تیوریکي او نظري بحث راته وایي، چې حقونه په دوه ډوله دي:

یو طبیعي حقونه دي، مثلاً د ژوند حق؛ دغه حق یوه ژوندي موجود ته د فطرت له خوا ورکول شوی. د دې برعکس، موږ قانوني (حقوقي) حقونه لرو، چې هغه د قوانینو او حقوقي سیستم له لوري راکول کېږي، لکه د رایې اچونې حق. په دې دواړو ډولونو کې بیا هم وینو، چې حق «راکول کېږي»، یعنې زموږ خپله شتمني نه ده، بلکې «مستعار» شی دی، چې یو وخت رانه اخیستل کېدلی شي.

په دې ځای کې مهمه او زموږ په بحث پورې اړوند پوښتنه دا ده، چې څوک (یا څه) موږ ته حقونه راکوي او څوک دا «اجازه او واک» لري، چې بېرته یې رانه واخلي؟

د دې پوښتنې د ځواب لپاره باید د حقونو په سرچینو وغږېږو.

**الف) تاریخي بستر**

حقونه د لومړني انسان له پیدایښت سره هم مهاله نه دي رامنځته شوي، بلکې د تاریخ په بستر کې منل شوي او چې بشري تاریخ را مطالعه کوو، نو ورسره د حقونو تدریجي منځته راتگ هم پکې احساسولی شو. د حق مسئله هغه وخت را پورته کېږي، چې کله موږ «یو کار» یا «یو څه» پخپل زیان یا گټه وینو. په دې ځای کې به یوه مثال ته تم شو. له احمد سره یو بوتل اوبه دي. احمد چې اوبه څښي، تنده یې ماتېږي او په دې ډول گټه ورته رسوي، نو احمد اوبه د ځان حق گڼي. دې ته له یوه بله اړخه هم گورو، محمود د احمد پر اوبو برید کوي. د دغه برید په نتیجه کې احمد ته زیان رسېږي، نو له همدې امله احمد تل د خپل بوتل په تړاو وایي، چې «دا زما حق دی.»

داسې نه ده، چې د یوه کار یا یوه شي تصور چې رامنځته شوی، نو ورسره د هغه کار یا شي حق هم منل شوی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

«رايې اچونې» تصور ممکن د انسان له وجدان، فردي تعقل، ټولنيز تعقل او يا د تاريخ په بستر کې رامنځته شوی وي، خو د رايې اچونې «حق» د دې تصور لـه رامنځتـه کېـدو سره هـم مهاله نه دی منل شوی، بلکې په وروسته وختونو کې دې تـه غاړه ايښودل شوې، چې «رايه اچونه» د ټولنې د يوه فرد سالم حق دی.

**ب) نړيوال کنوانسيونونه:**

د بشر يو شمېر حقونـه، د تـاريخي بسـتر پـه اوږدو کـې، پـه نړيوالو کنوانسيونونو او نړيوالو تعهدليکونو او قراردادونـو کـې منظور شوي دي. هر انسان ازاد خلق شوی دی، هېڅ څوک د چا غلام نه دی. په دې اساس، انسان په خپلـو کړنـو کـې هـم ازاد دی او ممکن د همدې ازادۍ له مخـې، انسـان لـه نـن نـه زرګونه کاله پخوا په دې پوه شـوی وي، چـې د بيـان ازادي د ده/دې په ګټه يا زيان ده او په دې اسـاس، يـو حـق يـې دی. خو د يوه بشري حق په حيث، د بيان ازادۍ د حق منـل کېـدو تاريخ ډېر زوړ نه دی.

**ج) نړيوال دود او دستور:**

يو شمېر بشري حقونه چـې يـو وخـت يـې د نړيوالـو ټـولنيزو دودونو او دستورونو بنه درلودله، نن ورځ په نړۍ کې د سالمو حقونو په توګه منل شـوي دي. پـه دغـه سرچينـه کـې د يـوې ټولنې ملي دود، دستور، کلتور او فرهنګ هم راتللـی شي؛ او په يوه ټولنه کې يو دود، يا د يوه دود يوه اطلاقي برخه د حـق په ډول منل کېدلی شي. له دغه اړخه که وګورو، نو پخپلـه يـو ملي دود او دستور د يوې ټولنې لپـاره او بالمقابـل يـو نړيـوال دود او دستور د نړۍ لپاره د يوه حق حيثيت لرلـی شي، ځکـه هر دود ټولنې يا نړۍ ته ګټه او يا زيان رسوي.

له پورتنيو دريو سرچينو پرته، هر هغه څه چې پر بشري حقونو غږېـــږي، هغـــه يـــوازې د يـــوه حـــق د روښـــانوونکي او واضحوونکي حيثيت درلودلی شي، خو د حق سرچينه نه شي کېدلی؛ د بېلګې په ډول، يوه اخلاقي تيوري، سياسي فلسـفه، انفرادي تفکر، الهامي او غيرالهامي اديان، مذهبي ارشادات او داسې نور د يوه حق مثبت او منفي يا ښه او بد اړخونه روښانه کولی شي، خو د حقونو په ليست کې کمونه يا زياتونه نـه شي کولی.

د دې يو لوی لامل دا دی، چې د حق د تسليمولو پر مهـال دا نه کتـل کېـږي، چـې دغـه حـق لـه يـوې اخلاقـي تيـورۍ يـا اخلاقياتو سره همغږي/ټکر لري او که نه، بلکې حق د ګټې او زيان په معيار منل کېږي.

که محمود لـه تنـدې مـري، نـو ممکـن اخلاقـي تيـوري راتـه ووايي، چې احمد بايد خپلې اوبه محمود تـه ورکـړي، خـو د حقونو فلسفه راته وايي، چې دا پرېکړه په بشـپړ ډول د احمـد په واک کې ده، چې خپلې اوبه محمود ته ورکوي او که نه.

**د اسلام مفهوم:** په دغه ليکنه کې له اسلام څخه زموږ مطلب، قرآن کريم او سنت دی. قرآن کريم، د الله تعالی اخري کتاب دی، چې په خپل پيغمبر حضرت محمد ص يـې نـازل کـړی. سـنت لـه آدم څخـه تـر محمـد ص او بيـا د تـر نـن ورځـې مسلمانانو پورې د تواتر په ډول را نقل شوی شريعت دی.

له قرآن او سنت پرته، اجماع او قياس په دين باندې د پوهېدو لپاره له ګڼو لارو څخه دوه لارې دي، چې په دې ځای کې د اړتيا په صورت کې ممکن له اجماع او قيـاس څخـه يـوازې د پوهاوي وړ آلې په ډول استفاده وشي.

**د ښځې مفهوم:** ښځه يو ازاد او خپلـواک مخلـوق دی، چـې فطرت لـه خپلـو خصوصـياتو او ځـانګړنو سره خلـق کـړی. د خپلو ګڼو مشترکو ځانګړنو له مخې، ښځه د بشري نـوعې يـو ډول يا بڼه ده او د ګڼو جنسونو په ډلـه کـې د نارينـه د جـنس ضد يا مقابل جنس ده او د نارينه په څېـر، لـه نـورو جنسـونو سره يو شمېر مشابهتونه او اختلافات لري. د تېرې جملې يـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله پایله دا هم ده، چې ښځه د بشر د ګڼو جنسونو په منځ کې یو جنس دی.

ښځه د بشري نسل د تکثیر طبیعي او فطرتي وسیله ده، چې په دغه برخه کې نارینه هم د یوې وسیلې رول لري. د بشري نسل د تکثیر لپاره له ګڼو لارو استفاده کېدلی شي، خو ښځه یې طبیعي وسیله ده او بله دا چې د نارینه له شتون پرته ښځه په یوازې ځان دا کار نه شي کولی.

**۲) د ښځو حقونه**

«د حق مفهوم» تر عنوان لاندې بحث کې مو ږ دې نتیجې ته ورسېدلو، چې د حقونو سرچینې درې دي؛ تاریخي بستر، نړیوال کنوانسیونونه او نړیوال دود او دستور. په دې اساس، د بشري نوعې د هر جنس حقونه به هم له همدې درې ادرسونو ټاکل کېږي او د حق ورکونې، غوښتنې او تروړنې یوازیني ادرسونه همدا درې دي؛ په دې معنا چې که ښځې ته حق ورکول کېږي، نو له همدې درې ادرسونو به ورکول کېږي، که ترې اخیستل کېږي، نو یوازې یاد درې ادرسونه یې ترې اخیستلی شي او که یې ښځه غوښتنه کوي، نو باید همدې درې ادرسونو ته مراجعه وکړي.

د دې ترڅنګ، مو ږ په خپل بحث کې دا هم وویل، چې له یادو درې سرچینو پرته، بله هره اخلاقي تیوري، سیاسي فلسفه، الهامي او غیرالهامي ادیان او داسې نور یوازې د حقونو د تفسیر او تبیین په توګه رول لوبولی شي. له بده مرغه، د اسلامي هېوادونو یوه لویه بدمرغي دا ده، چې په هغو کې اسلام یا مذهبي فکر هم د حقونو سرچینه ګڼل کېږي او د هر دوهم عالم له خولې دا خبره اورېدل کېږي، چې اسلام ښځو ته پلانکي او پلانکي حق ورکړی. دغه راز، یو لوی شمېر دیني علماوو خپل ګرانبیه وخت په دې ضایع کړی، چې د اسلام په مصادرو کې د ښځو حقونه ثابت کړي. د دغو علماوو په دغو پنډو کتابونو کې یوازینی استعداد دا لیدلی شو، چې د تأویلاتو او تعبیراتو په مټ یې یو آیت یا د حدیث یوه برخه په داسې ډول تاو کړې او مروړلې وي، چې عام لوستونکی د لیکوال استعداد ته ګوته په غاښ پاتې وي.

د موضوع له حقیقت او واقعیت څخه ناخبره دغه علماء هېڅ کله د دې موضوع په اساس او بنسټ پسې سر نه ګرځوي، بلکې هغه څه چې مخې ته یې پراته وي او له اسلافو ور پاتې وي، هماغه په یوه نوې بڼه او نوي رنګ کې تر خپلو تنبلو لوستونکو پورې رسوي او په بدل کې یې د شهرت، نوم او پیسو په بڼه امتیازات ترلاسه کوي.

خو که د دغو علماوو لیکنو ته یوه حقیقت پسندانه کتنه وشي، نو د ځیرک لوستونکي لپاره د وخت له ضیاع او په ځینو مقاماتو کې د خندا وړ خبرو پرته بل هېڅ هم نه لري.

قرآن کریم هېڅ کله دا ادعا نه ده کړې، چې انسان ته یې پلانکی او پلانکی حق ورکړی دی او یا یې یو حق نه دی ورکړی؛ بلکې دا یوازې د همدې علماوو تأویلات دي، چې د عامو لوستونکو اذهان یې په زهرو لړلي دي. د قرآن کریم ویناوال، الله تبارك و تعالی، له دې ډېر سپېڅلی او لوړ دی، چې هغه څه چې په نړۍ کې ترمخ لا منل شوي او یا به په راتلونکي کې ومنل شي، د هغو په هکله لارښوونې وکړي.

د دغو علماوو د کاذبو تأویلاتو له کبله نن ورځ اسلامي ټولنې له دوو اړخونو له ناګزیره تباهۍ سره مخ دي، چې باید مخه یې ونیول شي:

**لومړی، د تعریف شویو حقونو د تعریفونې تباهي:**

دغو علماوو له قرآن کریم څخه د حقونو د استنباط لپاره یو داسې میتود کارولی دی، چې د هغه حتمي پایله دا راوځي، چې د حقونو نورې ټولې سرچینې باطلې دي او یوازینۍ سرچینه یې د دوی تأویل او تفسیر دی. د دغه تأویل او تفسیر په نتیجه کې که ښځو ته حقونه ورکول کېږي او که بېرته ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستل کېږي، نو ښځې یې باید په پته خوله ومني او خپل غږ باید پورته نه کړي. دغه علماء چې د ښځو لپاره کوم حقونه له قرآن څخه استنباطوي، د هغو لیستې اوږد دی، خو موږ به یې یوازې پر یو څو ډولونو خبرې وکړو. د بېلګې په ډول، دوی وایي، چې اسلام ښځو ته د واده حق ورکړی او په مقابل کې یې نارینه ته د دې حق ورکړی، چې د ښځې د ولي یا سرپرست په توګه د هغې د واده بشپړ تصمیم په خپل لاس کې واخلي. حال دا چې، د واده حق تر اسلام مخکې هم ښځو درلوده. اسلام یوازې د واده لپاره یوه لاره وړاندیز کړې او د حقونو خبره یې په هېڅ مقام کې نه ده مطرح کړې.

په دغه لیستې کې یو بل عنوان په میراث کې د ښځو حق دی. د تاریخ یو عادي زده کوونکی هم پوهېږي، چې په میراث کې د ښځو د حق تصور په هره ټولنه او هر تمدن کې پالل شوی. د اسلام یوه لویه ښېګڼه دا ده، چې د میراث د وېش لپاره یې یو نوی میتود بیان کړ. د دې هېڅ کله دا معنا نه ده، چې اسلام ښځو ته په میراث کې حق ورکړ، بلکې یو منل شوی حق یې روښانه او عملي کړ.

دغو علماوو په اسلام کې د ښځو د زدکړو او کار حق هم په ډېر زړه نا زړه ډول په خپلو کتابونو کې بیان کړی؛ د دې لامل دا دی، چې په قرآن کریم کې د ښځو د تعلیم په هکله اصلاً هېڅ یادونه نه ده شوې او د حیرانتیا ځای نه دی، چې د نارینه وو د تعلیم یادونه هم نه ده پکې شوې. د دې لامل دا دی، چې تعلیم او زدکړه د انسان یو داسې حق دی، چې د یوه الهامي کتاب یادونې ته اړتیا نه لري او الله تعالی، چې عالم او حاکم ذات دی، دغه ټکی له همدې امله نه یادوي. د اسلام تر راتګ له مخه لا، د ښځو او نارینه وو لپاره د تعلیم، زدکړو او کار حق منل شوی وو. خو که دغه علماء د قرآن کریم د تأویل او تفسیر پر مهال، یوازې د هغه مهال عربي ټولنه په نظر کې نیسي، نو دا که له یوې خوا د دوی تنګ نظري ښیي؛ نو له بل لوري د تحقیق او څېړنې له میتودونو سره یې د نابلدتیا ښکارندویي هم کوي.

بل خوا، تر پیغمبر کېدو له مخه پخپله نبي کریم ص هم د یوې ښځې کارمند وو او رئیسه یې ښځه وه؛ نو دا څنګه امکان لري، چې له بعثت وروسته دې نبي کریم ص، حضرت خدیجې رض ته وایي، چې اوس دې چې اسلام قبول کړ، نو د تجارت حق دې هم ومونده؟ آیا دا ډول خبرې د خندا وړ او د نبي کریم ص په نبوت پسې د ملنډو په معنا نه دي؟ (العیاذ باالله)

**دویم، د نویو حقونو لپاره د نه ګنجایش تباهي:**

هغه حقونه، چې د تأویلاتو او منطق په زور له قرآن کریم څخه استنباط شي، د دغو علماوو لپاره یوازې هماغه حقونه د مسلمو او ثابتو حقونو حیثیت لري. خو په نړۍ کې چې ورځ تر بلې نوي حقونه منل کېږي، د هغو پر مخ یې خپلې دروازې په بشپړ ډول تړلې دي، چې له هغې ډلې څخه د ښځینه او نارینه جنس ترڅنګ، د نرښځي (bisexual)، نارینه همجنس باز (gay)، ښځینه همجنس باز (lesbian) او جنس - بدل (transgender) جنسونه د یوه طبیعي واقعیت په توګه منل شوي شو.

اسلام بې له شکه د همجنس بازۍ خلاف دی او د دغو جنسونو ترمنځ جنسي روابط ناروا او حرام دي، خو د ټولنې د یوه واقعیت په توګه منل یې د اسلام د رښتیني روح یوه غوښتنه ده. د دغو جنسونو د نه منل کېدو یو لوی سبب د دوی ترمنځ د جنسي اړیکو حراموالی دی، خو هغسې چې د ښځینه او نارینه جنسونو ترمنځ د یو شمېر جنسي- روابطو د مخنیوي لپاره لارې چارې په نظر کې نیول شوې، په همدې ډول د دغو جنسونو روابطو ته هم یو مشروع چوکاټ او لاره جوړېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

LBGT (د یادو څلورو جنسونو لنډیز) یو داسې توپان دی، چې که پر وخت یې مخه ونه نیول شوه، نو ټوله ټولنه ورسره له منځه وړلی شي.

له دغه ډول نړیوالو واقعیتونو سترګې پټول، یا په زوره څپل او یا له یوې مخې انکار ترې کول یو درد هم نه دوا کوي، بلکې یوه نوي چیلنج ته غاړه ورکول او یوې ستونزې ته حل لاره لټول علمي، عملي او عقلاني روشونه دي.

**۳) پایله:**

بشري حقونه د تاریخ په بستر، نړیوالو کنوانسیونونو او نړیوالو او ملي دودونو او دستورونو کې تعریفېږي. یوه اخلاقي تیوري، سیاسي فلسفه، سیاسي نظام، فردي تفکر، الهامي او غیر الهامي ادیان، ډله ییز تأویل او تفسیر د حقونو سرچینه نه شي کېدلی. د دې ترڅنګ، هغه څه چې د بشري حقونو په توګه منل شوي، پر هغو هېڅ فرد، ډله یا بله معنوي اتارټي واک او صلاحیت نه لري، بلکې دغه قوانین چې له کوم ځایه تعریف شوي دي، د مسخه کولو واک او اجازه یې هم یوازې هماغه ادرسونه لري.

د ښځو کوم حقونه چې نن ورځ د اسلام پر مصادرو باندې د تکیې له مخې استنباط کېږي، په اصل کې د یو ډله جاهلو علماوو خپل ځاني تأویلات او تفسیرات دي، چې د اسلام له مصادرو سره هېڅ اړخ نه لګوي. د دغو تأویلاتو دوه تباه کوونکي نتایج دا دي، چې تعریف شوي حقونه له سره تعریفېږي، چې په دې ډول د هغو حقونو تاریخ، سرچینه او واک مسخه کېږي او د دغو حقونو واک یوې ډلې یا فرد ته په لاس کې ورځي، چې بیا به هره ښځه یوازې د تأویلاتو او تفسیراتو په زنځیرونو کې بندي وي. دوهمه تباهي یې دا ده، چې نویو حقونو ته ځای نه پاتې کېږي، چې په دې ډول له یوه اړخه له نړۍ سره زموږ اړیکه د تضاد په تار کې ښکېلېږي او له بله اړخه د یو لوی شمېر انسانانو حقونه تر پښو لاندې کېږي.

د لیکنې په پای کې د LGBT جنسونو په اړه خبره وشوه، چې دغه ډله باید د ټولنې او طبیعت د یوه واقعیت په توګه ومنل شي او د هغوی روا حقونو ته دې نظام او ټولنه هلې ځلې وکړي. هغسې چې د نارینه او ښځینه جنس ترمنځ یو شمېر کړنې ناروا ګڼل شوې او د مخنیوي لپاره یې ډول، ډول لارې چارې طرحه شوې، په همدې ډول د LGBT لپاره هم پر یوه چوکاټ او سیستم کار کېدلی شي.

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**